# دوى دواړو ته عذاب ورکول کيږي، او په کومه لويه ګناه عذاب نه ورکول کيږي؛ يو له دوی څخه به له تشو متيازو ځان نه ساته او بل چې و نو هغه به د خلکو تر منځ چغلګري کوله

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم په دوو قبرونو تېر شو نو وېې فرمايل: «دوی دواړو ته عذاب ورکول کيږي، او په کومه لويه ګناه عذاب نه ورکول کيږي؛ يو له دوی څخه به له تشو متيازو ځان نه ساته او بل چې و نو هغه به د خلکو تر منځ چغلګري کوله » بيا يې يوه لنده (لمده) لخته راواخيسته، دوه ترازې يې کړې، او په هر قبر يې يوه لخته وټومبله، هغوی وويل: اې د الله جل جلاله رسوله؟ دا کار دې ولې وکړ؟ وېې فرمايل: « کيدی شي له امله يې له دواړو تر هغه پورې عذاب سپک شي، تر څو چې دواړه وچې شوې نه وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم په دوو قبرونو تېر شو نو وېې فرمايل: د دې دواړو قبرونو خاوندانو ته عذاب ورکول کيږي؛ او دوی په داسې يو کار سره نه عذابيږي چې ستاسو په نظر کې به کومه لويه ګناه وي، که څه هم د الله تعالی په نيز لويه ګناه ده، له دې دوو څخه يو يې د حاجت پر مهال له ادرار څخه د ځان او جامو ساتلو څخه بې پروا و، او بل به يې د خلکو تر منځ چغلګري کوله، د نورو خلکو خبرې به يې د ضرر رسولو او د خلکو تر منځ د اختلاف او درز اچولو په موخه وړلې راوړلې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3010

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee